**ليکوونکی**: کارولینکویی(Carolyn Coe).
**منبع او دخپریدو نیټه** : کمان ډریم«23-12-2018»
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل».

---

# په افغا نستا ن کی غوسه چیرته ځي؟

## *Afghanistan: where can the Anger go?*



*د مها جرودخد ما تووړاندی کونکی موسسی دښونځی (JTS) په مخامخ په یو پنا هندګی کمپ کی دیو ولاړ هلک په لاس کی یو رابری تسمه لیدل کیږی یعنی هغه تسمه کوم چی دښونځی ښونکی کله ناکله پر هغه تسمه باندی دهغو هلکانو په ورغیو با ندی ګذار کوی کوم چی هغوی خپل لوست ښه نه وی زده کړی ، اوبا قی نور هلکا ن ترسترګو کیږی کوم چی دکرم د ګلو په خوړلو مصروف دی اودا ځکه چی د (APV) د مسولینو له طرفه د ښونځی شاګردان هڅول کیږی چی دخپل کورونوپه څنګ کی په وړو کانتینرونو یا ګلدانونوکی سبزیجات وکری اوبیاله هغه څخه ګټه واخلی ځکه چی سبزیجات پر انسان باندی ارام کونکی اغیزی لری اود اپخبله دهوا د ککړتیا په راتیټولو کی د مبارزی په لور د یو کوچنی ګا م پورته کول دي .*

**کا بل**: د کا بل په شما ل ولویدځ برخه په یو ترافیکی څلور لاری کی د موټرو په

هجوم سره ترافیک په تپه ولاړ ښکا ری اود لته د موترچلونکو د لاربښوونی دپا ره کوم ترافیکی سګنا ل یا کوم ترافیکی څراغ هم نه ترسترګو کیږي او دا سی په نظر راځی لکه چی یو را اوبد ل شولی غا لی په غوړید لی بڼه چیرته ویوړل شي .
دیو مسافر یا لارو هونکی دسورلی موټر زمونږ دتاکسی موټر له مقابل لوری څخه په راتګ کی وه ، دغه موټر چلونکي په موټر کی دوه ماشومانو سره خپل موقیعت دموټر په دننه کی ډیر ټینګ ساتلی وهُ سړک دموټرو په دری قطاره لیک سره چور تړلی او بند وه اود سړک له هغه بل غا ړی څخه کوم چی نور موټری له هغه لاری څخه راغلی وه غوښتل چی دی غا ړی ته را واوړي ا ما دغه موټر چلونکی چي په هغه کی دری ما شوما نو هم ورسره وه نشوکولای چی هرخواته ځا ن واړوی اودا ځکه چی لاری په هر خوا کی د ترافیک دازد حا م له کبله بلکل تړل شوی وه .
دی وخت کی یوقهرجن او عصبی موټر چلونکی سړی له خپل موټر څخه راښکته کیږی اود چټکو ګا مونو په اخیستلو سره ځا ن هغه فاملی موټر ته رسوی اودهغه موټر په بانټ باندی دخپل لاسونه په واسطه سره سخت ضربی واردوی اوبیا ځا ن دهغه موټر کړکی ته رسوی او دکورنی موټر چلونکی ته ښکنځلی کوی اوبیا بیرته په خپلو څوکانو سره دهغه موټر پر بانټ باندی ګذارونه کوی اما هغه فا میلی موټر چلونکي چی دهغه د موټرپه دننه کی دری ماشوما ن هم سپا ره دی ،هغه نشی کولای چی له خپل ځای څخه مخکی اویا شا ته حرکت وکړی ځکه چی د خپل بغل موټرانوسره په تصا دم کی راځی.
نو په دی وخت کی د ترافیکو یو افسر دوه ځلی په اشا ری سره نوموړی موټر ته دحرکت کولو اشا ری کوی چی که وشی کړلی چی د ترافیک لاره آزاده کړي اما هغه قهرجن سړی بیا هم له غوسی ډ ک موټروان ته شکنځلی کوی تر هغه پوری چي دوه نور سړیا ن له خپلو موټرونو څخه پلی کیږی او هغه موټر وان ته چی دهغو څخه لیری هم دی فحش او دخولی شکنځلی کوی چی ولی ولاړ دی اوحرکت نه کوی .
په پا یله کي هغه قهرجن اوعصبی المزاج موټر چلونکی په حرکت ولویږی او د ترافیک لاره را خلا صیږی او د هغه کورنی موټر چلونکی ته آسا نتیا وی تر لاسه کیږی چی د څلور لاری څخه راووځی او لاره خلاصه شی ترهغه چی زمونږ تا کسی چپ خوا ته په حرکت ولوید .
زه اوس دغه ترافیکی نانداری او جنجال داسی راځیرم اوهغه داچی دغه زلزله اویا دغه نا نداری په کا بل کي د جګړی د څو لسیزو هغه شوم سوغا ت دی چی ترسترګو کیږی اوهغه داچی هروضیعت اویا هربیا ن او توضیح د کا مل شخړی ، قهر ، غضب اودغوسی سره مل دی اوهغه دا چی د لته اوس یو متزلزل تعا دل په مینځ دناهیلتوب اود تا وتریخوالی په مینځ کی موجود دی چی دهری پیښی پایله د فزیکی برخورد سره تما میږی . یا په فزیکی برخورد سره منجر کیږي .
د نومبرد میا شتي په (پنځلسم) تا ریخ کی د کا بل د ښا ر په یواځنی مشهور د کا بل

*په پوهنتون کي دهغه پوهنتون دنا رينه وو په ليليه کي يوله خشونته ډک چا ودنه ترسره شو چي دهغه په ترڅ کی يو محصل مړ اونور محصلين ټپيا ن شول ، اود محصلينو دخپل مینځی قومی اويا ا يتينيکی شخړی او مخا لفتونه په ډ ير چټکی سره وا ټونو ته ووتل يعنی چی دغه شخړی خيا با نی شول، دکا بل د پوهنتون مسولو مقاما تو ډير زر دنا رينه وو ليليه وتړل او ژمنه يی وکړچی د محصلينو د پا ره داستوګنی يوه بل ځای چمتو کړی اوپه عين وخت کی دنوموړی پوهنتون د محصلانو دازموينی نيټه يی شاته واچول اوپه دی ډول د پوهنتون سمستر زر پا ی ته ورسول .*

*اما ددی پوهنتون د محصلينو ترمينځ د را پيد ا شوی شخړی اودمخا لفتونو راپورونه د ټولنيزو رسنيو په واسطه سره خپا ره شو چی د يو راپور له مخی راپور ورکونکی وا يي چی ما ته دوه محصلين داسی وويل چی زه د ژورقومی تعصب په لرلو سره د دی پر ځای چی دروا ني قومی شخړی دواقعی علتو نود پوهيد و اويا د يوغيرشخړيز سلوک پخپلو کولو سره د حل لاره ولټوم نورهم قومی اختلافا تو ته لمن وهم .*

*د نن ورځ دسړک د له غوسی ډک اعتصاب څخه نيم سا عت د مخه ، ما د قره باغ څلور لاری په مينځ کی (اولس) کلن* ***رمزيه*** ***(Ramzia)*** *نومی د بيځا يه شوی کډوالو کمپ د ښونځی زده کونکی سره وليد ، هغه کمپ چي په هغه کی ډير ازدحام دی او کډواولو دنا چا ری له مخی په همدی ډير تنګ ځای کی د خپلو پسونو او نورو څارويو سره ژوند کوي ، اوهر شيبه ددی کمپ داوسيدونکو تر مينځ د نښتو شرايط کاملاْ چمتو دی تر هغه چی حتي کيدای شی چی فزيکی برخوردونه هم پرځای شی ،* ***رمزيه*** *ما ته وويل چی زه ددی حا لت اويا دغوسي او قهر سره څه نشم کولای بلکه خپل قهر او غوسه خپل زړه ته اچوم اوهلته يی سا تم .*

*د**رمزيه** کورنی دلغمان ولايت د روانی اوموجوده تاوتريخوالی دشتون له کبله وتښتيد يعنی هغسی تاوتريخوالی چی* ***رمزيه*** *دځلورم ټولګی دزده کړی مخه ونيول ، اما* ***رمزيه*** *په کمپ کی وتوانيدل چي خپل زده کړی ته دوام ورکړی نو هغه په دی بريالی شو چی (ددولس) صنفی تاکل شوی حياتی مهارتونه خپله کړي دلته په دی کمپ کی دښځو دژوند دمهارتونودزده کړی صنفونه د(**JRS**) په مټ سره فعاليت کوی چی دلته دالينا (**Elina**) يو افغانی دسولی درضاکارانو (**APV**) په سرمشری سره ټاکل شوی پروګرامونه مختله وړل کيږي اوددی ښونځی په پروګرامونو کی تا کل شوی مها رتونه لکه : دزخمونو درملنه ، کرکيلنه ، د شخړو اودمنازعاتو دحل لاری ، دکيسی اودافسانی ويل او ليکل ، دعدم تشد د ا ړيکي اودا نتقا دی فکر کولو مها رتونه شا مل دی .*

***رمزيه*** *د لغما ن دولايت يو له داخلی بيځا يه شوی کډ والو د کورنی يوه زده کونکي دی چي د(**JRS**) دپوليسو دکمپ په وړکتون کی کارکوی اودهغی دوه ورونو ديود کچا لو فروش د دوکا ندا ر سره کارکوی چی الوګا ن په بوجيو اوخريطو کی ځای پرځای کوی*

او دهغه دوکا ند ا ر ښځه پیسی تر لاسه کوی - **رمزیه** په یو خبری نا سته کی وویل هغه په زړه پوری خبری چی می د **الینا** ښځه زده کړی ، هغه دادی چی د غوسی اود قهرپه وخت کی د یو ورو اوژور ساه اخیستنی سره ، غوسه او غضب می له مینځه ځی او د خوښی احسا س راته پیداکیږي



**رمزیه** د (JRS) دکمپ په وړکتون کی نیم مهال (part time) بنې هره ورځ د سها ر له (۹) بجو بیا تر (۱۱) بجو پوری کا رکوی اوهغه د ما شوما نو سره طناب با زی او توپ بازی کوی ، ما شوما نو چي په دی وړکتون کی ژوند کوی د ودی په حال کی دی او وده کوی اما هغه څه چی د **رمزیه** د پاره نا هیلی او ستونزمن دی هغه دادی چي له دی نه چی هغه د برق ، د ښباک صحی اوبو ته لاس رسی نه لری له یو طرف اوله بل طرفه دا چي دهر کا ل د پسرلی په موسم کی دوړکتون لاره په ختو سره پوښل کیږی کوم د چی دهغه دتګ اوراتګ ته خنډونه زیږي ناهیلی کیږي.

دافغان دسولی درضا کارانو (APV) له جملی ښځه **نا صر** چی د نا رینه وو د پا ره زده کړی ورکوی هغه په دی با ور دی چي هغه مهم شی چی دوی د هغو سره شریکه کړی هغه دادی چی دا ځنګه ممکن دی چی هغوی د خپل مور وپلار ،خویند و ، ورونو سره متفا وت چلند او رفتا ر کوي ، **نا صر** وویل : مور اوپلار د خپلو ماشومانو سره په تاوتریخوالی بنې سره رفتار کوی لکه همغسی چي ورونه د خپل خویند و سره له خشونته ډ ک رفتارکوي -که چیری کوم وخت له ما شوما نو نه غلطی سرووهی اویا اشتباه وکړی له دی نه چی د ما شوم موراو پلار د هغه ما شوم د ا شتباه پر علت باندی ځا ن پوه کړی نو دهغه په بد ل کی پخبلو ماشوما نو با ند ی چیغی وهی اویا پر هغو با ندی وار او ګذ ا ر کوی .

د نه تاوتریخوالی د سلوک په اړین وروسته د لمړنی لوست حخه **نا صر** اودهغه نژدی همکار ښاغلی حکیم زده کونکو ته خانګی کار ورکړل اوهغه داچی دوی باید دخپل مور وپلار ،خویندو او ورونو سره دخپل احساس په اړه خبری اتری وکړی اوهم دهغو ښځه دهغو د خوښو خواړو په ارتباط پوښتنی وکړی چی البته دغه زده کونکی

مخکی له دی نه پوهیدل چی دهغو د کورنی غړی دعا د ت له مخی کومی خواړه دهغوی خوښیږی اوکومی خواړه نه خوښیږی . **نا صر** وویل : شا گردان بله اونی د یر خوشحا ل ښکا ریدل اودا ځکه چي هغوی درا تلونکي په اړه د خپلو کورنیو سره خبری وکولي ، زده کونکو وویل چی دوی دخپل کورنی سره دخپل دخوښی خواړه لا زمه مواد له مارکیټ حخه وپیرودل . چی د خپل خوښی غذا پوخ کړي .

د ژوند دمهارتونو دزده کړی دلوست اهمیت لکه هغه شان دی کوم چی دیوکس غوسه او دهغه احساسات دواړه په شریکه بڼی سره دیو ځپی په توګه په حرکت کی ولویږي نو دهمدی لوست له لاری **رمزیه** په ارامی سره دیو ابزار یا د یو وسیلی په تر لاسه کولو وغوښتل چی دهغه ورکتون ځلو ر کلن ماشوم دپاره ځواب پید ا کړی چی هغه ماشوم دورکتون څخه دباندی یو ماشوم سره ناخوالی درلود چي دهغه سوال ته ځواب ووا یي . نورو شاید چی دیو شیبی دپاره مخکی چی په کړنه لا س پوری کړی هڅه کوی چي دموضوع په اړین ځان پوه کړی نو په دي شا ن د ژوند مها رتونه کولای شی دبدلون سره مرسته وکړی چي خلک څنګه یودبل سره ښکیل شوی اوڅه باید وکړی چی د تا وتریخوا لی څخه مخنیوی وشی .

بیا هم دژوند دزده کړي فرصتونه کم دی اوله بلی خوا څخه د (۷۰۰) بی ځایه شوو کورنیو دما شوما نو دپا ره د دولت له طرفه ښونځی شتون نه لری نو له همدی وجهی څخه ما شوما نو په خا ورو اوختو کی لوبی کوی اویا داچی د کمپ څخه د باندی دکارګر ما شوم په صفت کا ر کوی اما هغوی چي ښونځیو ته ځی نو د ژوند دمها رتونو لوست دهغو په تعلیمی نصا ب کی شا مل نه دي .

__________________________ **په سلامونو (2018-12-30)**